# د سولې په بهیر کې د خلکو غږ

محمد فهيم دشتي

# د سولې په بهیر کې د خلکو غږ

وږی ۱۳۹۸

## لړلیک


سریزه ........ vi
د سولې په بهیر کې د خلکو غږ ........ ۱
د افغانستان د پالیسۍ ډله ........ ۲
د سولې پروسې په تړاو دریځ/یوه نظر پوښتنه ........ ۲
لنډیز: ........ ٦
۱- سوله او اقتصادي پراختیا ........ ۷
۲- سوله او ګاونډیان ........ ۸
۳- د پوهنې له لارې د بحران کمښت ........ ۹
۴- د ناامني او تاوتریخوالي له منځه وړل ........ ۱۰
۵- یو بل منل ........ ۱۰
٦- د ټولو افغانانو لپاره عدالت ........ ۱۱
نچوړ ........ ۱۲

# سریزه

د فریدریش ایبرت ټولنه (FES) د آلمان ترټولو پخوانی سیاسي بنسټ دی چې په ۱۹۲۵ کال کې تاسیس شوی او د دموکراسی اصلي ارزښتونو ته ژمن دی. (FES) په ټوله نړۍ کې له ۱۰۰ څخه زیات دفترونه لري، چې زیات شمېر یې د محدود دولتونو تر ولکې لاندې سیمو او یا حتا د جګړو په سیمو کې او یا هم په هغه ټولنو کې چې له جنګ وروسته په هغه کې سوله رامنځته شوې ده، کار کوي.

(FES) د مطالعاتو، کنفرانسونو او سمینارونو له لارې د سولې ظرفیت لوړولو او ټول شموله خبرو اترو رامنځته کولو لپاره کار کوي ترڅو د هر چا لپاره د دوامداره ثبات او هوسایني ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

په افغانستان کې چې د خپلواکی سلمې کلیزې څخه لمانځنه وشوه، داسې ښکاري چې د سولې لپاره هڅې نه ختمېدونکې پدیده ده. شاوخوا څلور لسیزو تاوتریخوالو او جګړو د خلکو ورځنی ژوند متاثره کړی دی چې په هېواد کې د پاتې کېدلو تصمیم یې نیولی او یا هم د هغه په پرېښودو نه دي توانېدلي. میلیونونه وګړي چې ګاونډیو هېوادونو او یا هم نورو هېوادونو ته کډوال شوي دي، د کورنیو جګړو زیان یې له ځان سره وړی دی. اوږدې شخړې او همدارنګه ویجاړتیاوې او بې ځایه کېدنې د هغه جوړښتونو مانع دي چې امنیت، عدالت او خدمتونه وړاندې کوي.

(FES) په ۲۰۰۲ کال کې چې د افغانستان جنګ ځپلي هېواد لپاره مهم کال وو، په کابل کې خپل دفتر پرانیست، یو شمېر نړیوال لوبغاړي ثبات او بیا جوړونې او د دموکراتیک او سوله ایز هېواد ته ژمن وو.

له هغه وخته تراوسه پورې، (FES) د ټول شموله سولې رامنځته کولو زمینه برابروي ترڅو افغانان خوندي او د ننګونو سره د سمون او د بې باورۍ او تاوتریخوالي دوران ماتولو کې مرسته وکړي.

اوس مهال نړیواله فعاله دیپلوماسي په ځانګړې توګه د دولتي چارواکو، د طالب استازو، او د نړیوالې ټولنې د استازو د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو څخه تر آلمان پورې، اروپایي اتحادیې او روسیه کې جریان لري. تراوسه د درېیمې ډلې په منځګړیتوب د ښکېلو خواوو ترمنځ ناستې په دوحه، مسکو، پکن، تاشکند، او اسلو کې شوي دي. په افغانستان کې له سولې او ثبات څخه نړیوال ملاتړ ډېر اړین دی، که څه هم د دولتي بنسټونو ضعف او د افغانستان جفرافیایي موقیعت باعث شوی دی چې دغه هېواد د بهرنیو منافعو پورې تړل شوی دی. سربېره پر دې د همدارنګه خبرو اترو دوام او افغانان په خپلو مینځونو کې توافق ته رسېدل ډېر اهمیت لري، د افغانستان په رابطه د نړۍ او سیمې په کچه د اعتماد او توافق فضا هم دېره ضروري ده.

د دغه پوښتنې په ځواب کې، FES او د افغانستان د پالیسی ډلې د ۲۰۱۹ کال په لومړیو کې (د سولې په بهیر کې د خلکو غږ) تر عنوان لاندې طرحه په لار واچوله. له مختلفو قشرونو په سلګونو افغانانو په نظر څرګندولو او بحثونو کې برخه واخیسته او په لسګونه سپارښتنې یې وړاندې کړې چې د سولې د یوې اجنډا کې شاملېږي چې خپله د افغانانو له لوري جوړه او تنظیمېږي او د خلکو ترمنځ د هراړخیز بحث لپاره د پیل ټکی چمتو کوي.

مونږ د افغانستان د پالیسی ډلې د پروژې رییس او د دې لنډیز لیکوال ښاغلي فهیم دشتي او د دوی همکارانو او هیوادوالو ته د دوی د سوله ایز راتلونکي او د بې دریغه ژمنو په خاطر درناوی کوو.

**داکتر مګدلینا کرچنر**
د اف ای اس افغانستان د دفتر
رئیسه

**امام الدین همدرد**
د اف ای اس افغانستان د دفتر
د پروګرام همغږي کونکی

# د سولې په بهير کې د خلکو غږ

نږدې يو کال کيږي، چې افغانستان کې د جنګ پای ته رسولو او دايمي سولې ته د رسېدلو لپاره عملي هڅې روانې دي.

د سولې په روانو خبرو اترو کې بيلا بيل لوري خپله برخه او ارزښت لري. د امريکا، ملګري ملتونه، نړيوال شريکان، د سيمې هېوادونه، طالبان، افغان دولت او يوه برخه سياسي کړی په دغه خبرو اترو کې شريک دي.

د دغه خبرو اترو يوه ځانګړنه ــ هغه څه ته ورته ده چې په کولمبيا کې د سولې پروسه کې رامنځته شوه ـ د بحث وړ مسايلو پېټول او نه ځرګندول دي، چې په پايله کې د افغانستان د خلکو په ذهنونو کې ابهام او اندېښنې رامنځته کوي.

د دغه خبرو اترو يوه بله ستونزه د هغو خلکو نظرونو ته ارزښت نه ورکول دی چې د سولې او جنګ ګټه او تاوان يې اوس او يا هم په راتلونکي ژوند باندې په مستقيم ډول اغيزه کوي.

د افغانستان د پاليسۍ ډله، د دې خبرې په درک کولو سره چې د سولې په پروسه کې د خلکو د غږ نه اورېدل يوه لويه ستونزه ده او بايد حل شي په شمال، لويديځ، سوېل او ختيځو زونونو کې د سولې د مختلفو اړخونو په تړاو يې د خلکو ترمنځ بحثونه جوړ کړي دي، چې د دغه بحثونو او خبرو اترو پايله لاندې وړاندې کيږي.

د سولې په پروسه کې د خلکو غږ، له مختلفو قشرونو څخه د سولې خبرو اترو اړوند مسايلو په تړاو د خلکو د نظرونه راټولولو په هڅه کې دي.

تر دې عنوان لاندې ناستې په بلخ، باميان، ننګرهار، کندهار او هرات ولايتونو کې د ۶۰۰ کسانو په ګډون ترسره شوې وې او يادو



غونډو ته ځوانان، ښځې، دیني عالمان، قومي مشران، محصلین، د مدني ټولنو فعالان او رسنیز مسوولین رابلل شوي وو. دغه ناستې د افغانستان د پالیسۍ ډلې له لوري د ۲۰۱۹ کال د مارچ نه تر جون میاشتو کې ترسره شوې.

د ترسره شوو ناستو ګډونوالو، په شپږو محورونو کې چې د افغانستان د پالیسۍ ډلې له لوري ټاکل شوي وو( سوله او اقتصادي پراختیا، سوله او ګاونډیان، سوله او یو بل منل، سوله او امنیت، سوله او ښوونه او روزنه او سوله او عدالت) په کاري ډلو کې بحثونه وکړل.

د بحثونو په پای کې، د هرې ډلې استازو، د خپلو بحثونو پایلې له نورو ګډونوالو سره شریکې کړې.

هر هغه څه چې لاندې راځي، د ذکر شوو ناستو د ګډونوالو د غوښتنو او وړاندیزونو او ډله ایزو بحثونو لنډیز دی.

## د افغانستان د پالیسۍ ډله

د افغانستان د پالیسۍ ډله د ۲۰۱۱ مېلادي کال په وروستیو کې په سیمه ایزو خبرو اترو کې د حضور په موخه جوړه شوه. آلماني بنسټ، فریدریش ایبرت چې د افغانستان د پالیسۍ د ډلې اصلي ملاتړی بنسټ دی، چې په هندوستان او پاکستان کې یې دې ته ورته د پالیسۍ له ډلو څخه ملاتړ کوو او د افغانستان د پالیسۍ له ډلې سره یې د هغو ډلو د خبرو اترو زمینه برابروله.

په بل ګام کې د ایران، چین، روسیې، ترکیې او منځنۍ آسیا هېوادونو دولتي او غیر دولتي کارپوهان هم دغه خبرو اترو ته وبلل شول، او د افغانستان د پالیسۍ ډلې له دغه کارپوهانو او د پالیسۍ له ډلو(په ټوله کې له ذکر شوو هېوادونو څخه ۶۵ کارپوهانو) سره یو اړخیزې، دوه اړخیزې، درې اړخیزې او څو اړخیزې ناستې ترسره کړې، چې د دغه طرحو پایله د(له ۲۰۱۴ کال وروسته د افغانستان انځور) تر عنوان لاندې یوه سیمه ایزه پالیسي وه، چې په افغانستان او سیمه کې، د ستونزو د ریښې پیدا کولو پلټنه وکړه او د هرې ستونزې لپاره یې حل لارې وړاندې کړې.

دا طرحه په ملي، سیمه ایزو او نړیوالو پالیسیو کې د ګډون په موخه په کابل، ډهلي، اسلام اباد، نیویارک او بروکسل کې له دولتي او غیر دولتي بنسټونو سره شریکه شوه.

د ۲۰۱۸ کال په لومړنیو کې د افغانستان د پالیسۍ ډلې چلوونکي او د فریدریش ایبرت بنسټ مسوولینو د افغانستان د پالیسۍ ډلې د بیا جوړولو په طرحه کار وکړ، چې په پایله کې په دغه ډله کې جوړښتي بدلون رامنځته شو او همدارنګه د ډلې لپاره غورې موخې تعریف شوې.

اوس مهال د افغانستان د پالیسۍ ډله په امنیتي، سیاسي، اقتصادي، رسنیزو او مهاجرینو په برخو کې په ملي او سیمه ایزه کچه فعاله ده.

## د سولې پروسې په تړاو دریځ/ یوه نظر پوښتنه

د یادو ناستو په لړ کې، په یوه نظر پوښتنه کې ۶۰۰ تنو ګډون کړی وو چې په کې د سولې پروسې او د دغه پروسې د لوبغاړو په اړوند د دوي له دریځ او همدارنګه د سولې راتلونکې موافقې څخه د دوي اندېښنو، د امنیت مسله او د هغه ارزښتونو په اړه چې نه باید د سولې خبرو کې قرباني شي، پوښتل شوي وو.

د سولې روانو خبرو په اړه، اکثره ګډونوال (په ټولو ولایتونو کې له ۵۰ سلنې زیات) خوشبینه وو او خپل باور یې ښودلی. په همدې حال د بېلابېلو ولایتونو د ګډونوالو منځ کې د خپرېدو فرق شتنون درلود؛ د مثال په توګه، هغوی چې خوشبینه وو په ننګرهار کې یې زیات شمېر درلود؛ مګر په هرات کې نږدې ۵۰ سلنه ګډونوالو اندېښنه ښودلې

دغه ناستې چې د مارچ تر جون میاشتو کې په بیلا بیلو ولایتونو کې تر سره شوې






او دغه خبري یې له ابهام سره شریکې بللې دي.

په بلخ او بامیانو کې ښځې له نارینه وو ډېرې د سولې روانې پروسې ته خوشبینه وې؛ مگر په ننگرهار کې؛ هغه ځای چېرته چې له نورو ولایتونو خوشبیني زیاته وه، کمو ښځینه گډونوالو خوشبیني ښودلې ده، همدارنگه د دغه نظر غوښتنې په پایله کې معلومه شوه چې د بدبینی او اندېښنې کچه په هرات او بامیانو کې د نارینه وو ترمنځ ډېره وه او ښځو په هلمند او بلخ کې بدبیني ښودلې ده.

د سولې په پروسه کې د دولت د دریځ او رول په اړه، په ټولو ولایتونو کې له ۷۰ سلنه زیات گډونوال خوښ وو. له دې جملې ښځو ډېره خوښي ښودله په ځانگړې توگه په ننگرهار، کندهار او هرات کې؛ په داسې حال کې چې په بلخ او بامیانو کې گډونوال، په دغه پروسه کې د دولت له رول څخه اندېښمن وو او ناخوښي یې څرگندوله.

د دغه نظر پوښتنې اکثره گډونوالو، د سولې په پروسه کې د خلکو لپاره په عمده او برخلیک ټاکونکې رول قایل وو؛ په همدې حال اکثره یې په دې اړه چې آیا خلک دا رول لري او که نه بدبین وو او ناخوښي یې ښودله. په ننگرهار او




کندهار کې د نظر پوښتنې ګډونوال، د سولې په پروسه کې د خلکو رول ته خوشبینه وو؛ مګر په دې اړه د بدبینۍ کچه د هرات د ګډونوالو ترمنځ ټیټه وه.

د دې پوښتنې په ځواب کې، چې د سولې په پروسه کې د طالبانو رول څه ډول ارزوئ؟ نارینه ځواب ویونکي له ښځینه وو زیات په دې باور وو چې طالبان په دې جریان کې مخکښ رول لري. د ځواب ویونکو یو په څلوره د سولې په پروسه کې د طالبانو رول مثبت ارزیابي کوي. یوازې په بامیانو کې نږدې یو په دریمه ځواب ویونکو ښځو د طالبانو رول مثبت بللی او په بلخ، ننګرهار او کندهار ولایتونو کې ځواب ویونکې ښځې په دې باور دي، چې د سولې په پروسه کې د طالبانو موقف ضعیف دی؛ مګر په هرات کې ښځې په دې باور دي، چې د سولې په پروسه کې د طالبانو رول برتره دی.

د دغه نظر غوښتنې اکثره ګډونوال، هم نارینه او هم ښځینه، د سولې په پروسه کې د ملګرو ملتونو له رول څخه خوښ وو؛ مګر د ناخوښو کچه د تآمل وړ وه په ځانګړې توګه په بامیانو کې چې په زیاته کچه ځواب ویونکي نارینه







او ښځې په دغه پروسه کې د ملګرو ملتونو له رول څخه ناخوښ وو.

له ځواب ویونکو څخه غوښتل شوي وو چې د سولې له پروسې خپلې غوښتنې بیان کړئ. اکثره ځواب ویونکې له دې پروسې د مثبتې پایلې هیله مند وو په ځانګړې توګه په ننګرهار، کندهار او بامیانو کې؛ مګر په هرات، او بلخ کې ځواب ویونکو اندېښنه ښودلې او حتا په دې باور وو چې امکان لري وضعیت له دې هم بدتره شي.

بله پوښتنه دا وه چې کوم ارزښتونه باید د سولې په پروسه کې قرباني نه شي؟ اکثره ګډونوالوڅلور واړه ګزینې(دیني ارزښتونه، دموکراسي، بیان آزادي او د ښځو حقونه) په نښه کړې وې؛ په دې حال په ننګرهار او کندهار کې په دیني ارزښتونو زیات ټینګار شوی وو، په بلخ او ننګرهار کې زیاتره ښځو د ښځو پر حقونو ټینګار کاوه او د دیموکراتیکو ارزښتونو ساتلو ډېر طرفداران په بامیانو کې وو.

**لنډیز:**

پـه دې مـتن کـې د ٦٠٠ زیاتـو افغانانـو نظرونـه او وړاندیزونـه راغلي دي چـې پـه بلـخ، بامیـان، کندهـار، ننګرهـار او هـرات ولایتونـو کـې یې(د سـولې پـه پروسـه کـې د خلکوغږ) تـر عنـوان لانـدې ناسـتو کـې ګـډون کـړی وو.

دغـه ناسـتې د مـارچ نـه تـر جـون میاشـتو کـې د افغانسـتان د پالیسـۍ ډلـې لـه لـوري تـرسره شـوې.

د یـادې ناسـتې ګډونوالـو، پـه شـپږو محورونـو کـې چـې د افغانسـتان د پالیسـۍ ډلـې لـه لـوري تـاکل شـوي وو( سـوله او اقتصـادي پراختیـا، سـوله او ګاونډیـان، سـوله او یـو بـل منـل، سـوله او امنیـت، سـوله او ښـوونه او روزنه او سـوله او عدالـت) پـه کاري ډلـو کـې بحثونـه وکـړل.

د ذکـر شـوو بحثونـو پایلـو پـه طبیعـي ډول پـه ځینـو مـواردو کـې د ګډونوالـو ګـډ نظـر او پـه یـو شـمېرنورو مسـایلو کـې د دوی د نظـر تفـاوت لـه ځـان سره درلـود.

د سیمې هېوادونـو او ګاونډیانـو پـه اړه، د ذکـر شـوو ناسـتو ګډونـوال پـه دې نظر وو چـې د سـولې پـه پروسـه کـې بایـد د دغـه هېوادونـو مشروع ګټـې پـه نظر کـې ونیـول شي او هغوی هـم بایـد پـه افغانسـتان کـې د غیـر مشروع ګټـو پـه لټـه کـې نـه شي.







د ګډونوالـو پـه انـد، د ایران او پاکستان پـه ګډون لـه یـو شـمېر ګاونډیو هېوادونـو سره د تاریخـي، سیاسي او اقتصـادي سـتونزو حـل هـم بایـد د سـولې د اسـتراتیژۍ یـوه مهمـه برخـه وي، چـې افغـان دولـت او نړیـوال شریـکان یـې پـه لټـه کـې دي.

لـه بهرنیـو مرسـتو څخـه د خلاصـون لپـاره د طرحـو جـوړول او د خپـل اقتصـاد د پیـاوړي کېـدو لپـاره طرحـې، لـه اداري فسـاد سره مبـارزه، د پانګـې اچونـې جلبـول او پـه سـیمه کـې لـه ترانزیټـي موقیعـت څخـه ګټـه اخیسـتنه د ګډونوالـو عمـده وړاندیزونـه وو، چـې غوښـتل یـې د سـولې پـه سـتراتیژۍ کـې ورتـه ځـای ورکـړل شي.

ګډونـوال پـه دې بـاور وو، چـې پـه ډېر کـم وخـت کـې بـه وکـړای شي عدالـت د سـولې د ټینګښـت قربـاني کـړي؛ خـو د تـل لپاره غیـر لـه عدالـت څخـه سـوله نـه شي کـولای دوام پیـدا کـړي. هغـوی همدارنګـه لـه دولـت او طالبانـو څخـه غوښـتل، چـې د غیـر نظامـي تلفاتـو د درولـو لپـاره ډېر ژر پـه یـوه دایمـي اوربنـد توافـق وکـړي.

پـه تـرسره شـوو ناسـتو کـې، بیسـوادي او ناپوهـې د جنـګ د دوام او سـولې تـه د نـه لاسرسي لامـل بلـل شـوې دی او پـه ځانګـړې توګـه پـه دې ټینـګار وشـو چـې اسـلامي تعلیمـات بایـد لـه عمومـي تعلیماتـو څخـه بېـل نـه شي. د ځوانانـو او ماشـومانو د زده کـړې د زمینـې برابرولـو لپـاره پـه ابتدایـي تعلیماتـو او عـالي زده کـړو پانګـه اچونـه او د ابتدایـي او عـالي زده کـړو د کیفیـت لوړولـو د ګډونوالـو بلـه غوښـتنه وه. د دوی پـه انـد سـوله پـه یـوه باسـواده ټولنـه کـې کـولای شي چـې دوام وکـړي.

د ګډونوالـو لـه لـوري سـوله او امنیـت لـه یـو بـل سره تـړلي وبلـل شـول او د دوی ترمنـځ غالـب نظـر دا وو چـې سـوله لـه امنیـت او امنیـت لـه سـولې پرتـه پـه لاس نـه شي راتـلای. ګډونوالـو د اوربنـد پـه ژر راتلـو ټینـګار کـوو او پـه دې بـاور وو چـې د خلکـو مختلـف قشرونـه کولـی

شي په یوه غږ او په ګډه سره د جنګ په دواړو لورو د اوربند د ټینګښت لپاره ګټور فشار راولي.

د ګډونوالو له نظره شته ټولنیزې ستونزې په ځانګړې توګه قومي او ژبنی ستونزې د سولې په لاره کې یو بل خنډ بلل شوی او د دوی ټینګار په دې وو چې د سولې خبرو په جریان کې باید د دغه ستونزو له منځه وړلو ته جدي پاملرنه وشي، کنه دا ستونزې کولی شي چې سوله له خطر سره مخ کړي.

په ټوله کې (د سولې په بهیر کې د خلکو غږ) د ناستو ګډونوال په دې باور وو، چې د سولې په پروسه کې د خلکو رول ته نه پاملرنه او په دې پروسه کې د هغوی د غږ نه اوریدل، د سولې په هر ډول احتمالي توافق کې د عمده نقص د جوړولو باعث کیږي.

## ۱- سوله او اقتصادي پراختیا

افغانستان د دې چانس لري چې په هغه کې سوله او اقتصادي پراختیا، یو او بل پیاوړي کړي، په داسې حال کې چې یو له بل پرته نشي کولی چې دوام وکړي.

د سولې په نشتون کې په تیرو ۱۸ کلونو کې د بهرنیو هېوادونو د ملیاردونو ډالرو مرستو ترځنګ بیا هم افغانستان تراوسه د کمې پراختیا کوونکو هېوادونو له جملې څخه دی.

په همدې ډول په ۲۰۱۷ کال کې د دولت عواید دوه رقمي عددونو ته پورته شول او صادرات ۲۸ سلنه زیات شول په همدې حال د نړیوال بانک د شمېر پر بنسټ، داخلي عواید تقریبآ د دولت نیمه عادي بودیجه تشکیلوي.

اوس مهال، او په داسې حال کې چې افغانستان له بهرنیو مرستو




سره ډېر تړلی دی، دا خطر رامنځته شوی، چې له افغانستان سره د مرسته کوونکو هېوادونو ستونزو ته په کتو له افغانستان سره امنیتي او پراختیایي مرستې کمې شي.

سره له دې چې دغو مرستو د افغانستان اقتصادی وضعیت تر ډیره پر پښو ودراوه، خو که چېری مو په هېواد کې امنیت درلوده، او دولت خپل وخت ، قوت او امکانات د امنیت ټینګښت لپاره کارولي وی، اوس به یې د پرمختیا ډیری برنامې درلودې،او دغه برنامې به یې پلي کړې وې د افغانستان اقتصادي وضعیت کولی شوای چې په مراتبو تر شته وضعیت ښه شوی وای.

د هېواد په ځینو سېمو کې چې تروریستي ډلې او یا هم امنیتي ګواښونه شتون لري تر اوسه د خلکو لپاره د لومړنیو خدماتو د وړاندې کولو لپاره حتی یو ګام هم ندی اخیستل شوی.

اوس چې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره امکانات برابر شوي دي. خلک اندیښمن دي چې د سولې لپاره د سیاسي توافق وروسته به اقتصادي ستونزې د سولې او امنیت په لار کې یو لوی خنډ وي.

د هغه اقتصادي پراختیا لپاره چې وکولی شي مونږ ته سوله راولي د افغانستان دولت او د سولې سیمه ایز او نړیوال هیوادونه باید په خپله ستراتیژی کې د سولې د ټینګښت لپاره لاندې ټکي په پام کې ولري:

- هغه اقتصادي پرختیایی برنامې باید طرح کړل شي، چې د افغانستان اقتصاد په تدریجی ډول د بهرنیو مرستو له اړتیا وباسي او د بهرنیو او داخلي پانګه اچونو په مرسته خپل تولید محوره اقتصاد په پښو و دروي.
- د افغانستان د استخراجي زېرمو لپاره د پانګه اچونې راجلبول.
- په ټول هېواد کې د سیاسي، قومي، او سیمه ایزو دودونو د سلیقو څخه لېرې د متعادله اقتصادي پراختیا طرح را مینځته کول.
- له فساد سره د مبارزې لپاره د مشخصو برنامو طرح او تطبیق، چې د افغانستان اقتصاد یې سخت ځپلی دی.
- په ادارتو کې د قومي او ژبنیزو مسایلو پرته د مقرریو د پالیسی د طرحو جوړول.

- د افغانستان ټرانزیټي موقیعت څخه د داخلي منابعو د ټینګښت لپاره ګټه اخیستل.
- ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړي ډول هغه هېوادونو ته چې لاسوهنه یې د افغانستان د بحراني وضیعت د دوام سبب شوې ډاډ ورکول، چې د افغانستان ارام وضیعت کولی شي د هغوی مشروع اقتصادي ګټې خوندي کړي.

## ۲- سوله او ګاونډیان

د افغانستان په معاصر تاریخ کې، له ګاونډیانو سره د دغه هېواد اړیکې له ستونزو سره مخ وې، په همدې حال، اوس هم د همکارۍ او په دوی د باور جوړولو فرصت شتون لري.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ چټلې اړیکې، د دواړو هېوادونو امنیت ته زیان رسولی دی. دواړه هېوادونه د وسلوالو مخالفینو په ملاتړ کې یو بل تورنوي. د ډیورند کرښې ستونزه په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنې یو لوی لامل دی او د پاکستان له لارې د افغانستان د ترانزیت لار یا هم د افغانستان له لارې د پاکستان هېواد د ټرانزیټ لاره هم ډیرې شدیدې ستونزې لري. په وروستیو کلونو کې د مشترکو اوبو وېش او په پاکستان کې ملیونونه افغان کډوال یا هم په افغانستان کې پاکستاني کډوالو د داوړو هیوادونو اړیکې ترینګلې کړي دي.

ګډونوال په دې باور وو، چې پاکستان تل د افغان کډوالو له شتون څخه د ترهګریزو ډلو د سرتېرو د جذب اصلي منبع لپاره ترې ګټه اخلي .

له دې سره چې د افغان کډوالو حضور له ۸۰ یم میلادي کال سره نه دی؛ مګر رسمي رقمونه ښیي چې د هغو افغانانو شمېر چې په وروستیو کلونو کې پاکستان ته کډه شوي دي، له دې هېواد څخه د افغان کډوالو د بېرته راتګ شمېر ته نږدې دي.

د افغانستان او ایران اړیکې هم له ورته مسایلو متآثرې دي. ایران په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په شتون بانديې ناراضه دی. په ځینو مواردو کې ایران په افغانستان کې د طالبانو او ځینو فعاله تروریستی ډلو د ملاتړ په تور هم تورن دی.

د ګډو اوبو د وېش ستونزې ترڅنګ، په ایران کې شاوخوا څلور میلیونه افغان کډوالو حضور، دوه اړخیزې اړیکې متآثرې کړي دي.

ایران ته د افغان کډوالو تلل په تېرو کلونو کې نه دي درېدلي؛ مګر له ایران څخه د بېرته راتلو شمېر د ملاحظې وړ وو، په ۲۰۱۸ کې شاوخوا یو نیم میلیون تنو ته رسېده.

له کډوالو سره د دولتي مامورینو چلند په ځانګړې توګه امنیتي مامورینو، د افغانانو ترمنځ د زیاتې غوسې سبب شوی او ځینې وختونه هم د دواړو هېوادونو اړیکې پېچلې کوي.

د افغانستان شمالي ګاونډیان( تاجکستان ، اوزبیکستان او ترکمنستان ) نه یواځې داچې د افغانستان په ورانیدو کې یې نقش نه درلوده په ځینو مواردو کې د افغانستان وضیعت د هغوی لپاره امنیتي اندیښنې را مینځته کړې وې او په افغانستان کې د مخدره موادو تولید او قاچاق له امله یې تر ډېره حده زیان لیدلی دی.

چین هم د افغانستان د یوه ګاونډي په توګه په تېرو کلونو کې د افغانستان مسایلو ته پاملرنه نه کوله خو د تېرو درېو څلورو کلونو را هیسې په تدریج سره کولی شوچې د چین ونډه د خپل هېواد په سیاست کې وګورو، چې له دې جملې څخه یو هم لکه د پاکستان هیواد څخه یې ملاتړ او یا هم په لویو سیمه ایزو او نړیوالو اقتصادي برنامو کې چې ښاري یې.

د افغانستان لیری ګاوندیان(سیمه ایز قدرتونه لکه عربی هېوادونه، ترکیه، هند او روسیه) هم د افغانستان وضعیت د پیچلتیا سبب شوي دي.

د افغانستان لپاره د سولې هر ډول استراتیژي سیمه ایزو او نړیوالو لوبغاړو یوازې باید هغه ګټې چې د افغانانو له نظره روا بلل کیږي،



تامین کړي.

له پاکستان او ایران سره د افغانستان دوه اړخیزې ستونزې باید په نظر کې ونیول شي او حل کړل شي. همدا رنګه له ایران او پاکستان څخه د کډوالو راتلو ته زمینه برابره شي او دوی ته اسانتیاوې برابرې شي او د افغانستان په چارو کې لاسوهنه باید له منځه لاړه شي.

د منځنۍ آسیا هېوادونه باید د افغانستان ترانزیتي موقعیت څخه د وارداتو لپاره ګټه واخلي او په همدې ډول وهڅول شي چې د افغانستان په پېښو کې او په ځانګړې ډول د سولې په برخه کې مثبت ګامونه واخلي.

د سیمې او نړۍ قدرتونه چې له هغو څخه مو پورته یادونه وکړه هر یو په افغانستان کې مشروع او غیر مشروع ګټې لري. د افغانستان د سولې لپاره د ستراتیژۍ یوه برخه باید په افغانستان کې د دوی مشروع ګټو ټینګښت او له نامشروع ګټو د لاس اخیستو لپاره ډاډ ورکړي.

د څو ملیتي پروژو لکه تاپي، کاسایک هزار او دې ته ورته پروژو تطبیق ته د زمینې برابرولو لپاره افغانستان او د سیمې هېوادونه باید ټینګ ګامونه پورته کړي؛ ځکه چې دغه پروژې د سیمې هېوادونو ترمنځ ګډې ګټې رامنځته کوي او په سیمه کې د امنیت د ټینګښت سبب کېږي.

### ۳- د پوهنې له لارې د بحران کمښت

د سواد ټیټه کچه او په ښوونه او روزنه کې نقص په ټولنه کې د تاوتریخوالي او نورو ډېرو ناخوالو د رامینځته کېدلو لامل دی.




سوله د یوې ټولنې با سواده او پوه خلک کولی شي خپره کړي.

سره له دې چې په تیرو کلونو کې د ښوونې او روزنې په برخه کې ډېره پانګه اچونه شوې خو د پوهې د ټیټ والي کچه یوه لویه ټولنیزه ستونزه ګڼل کیږي.

په وروستیو کلونو کې په دې مورد هم زیات پرمختګونه شوي دي، د مثال په توګه د ۳ میلیونه نجونو په ګډون ۹ میلیونه کوچنیان او ځوانان په دولتي او غیر دولتي ښوونځیو کې په زده کړو بوخت دي؛ مګر تراوسه نږدې ۲ میلیونه افغان ماشومان ښوونځیو ته له تلو محروم دي په ځانګړې توګه په لیرې پرتو سیمو کې.

په ۲۰۱۹ کال کې د لوړو زده کړو، په دولتي او غیر دولتي پوهنتونونو کې له ۳۷۰ زرو زیات زده کړیالان په لیسانس درجه زده کړو بوخت دي، چې له دې جملې څخه یې ۴۰ سلنه ښځینه زده کړیالانې دي. په حقیقت کې د دوی دوه په دریمه چې له ښوونځیو څخه فارغیږي د لوړو زده کړو د دوام زمینه نه لري.

په داسې حال کې چې افغان ځوان نسل د تېر تاریخ سره په پرتله د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو ښه زمینه لري، تراوسه دغه عرصه شدیدې پراختیا ته اړتیا لري.

په بهر کې هم باید د افغانانو لپاره د زده کړو زمینه برابره شي؛ مګر دغه فرصت هم د مغزونو د تېښتې خطر مېنځته راوړي او له بل لوري هم هغه هېوادونه چې د افغانانو لپاره د لوړو زده کړو زمینه برابروي، له هغه څخه په افغانستان کې د لاسوهنې په توګه ګټه اخلي.

د دایمي سولې د ټینګښت لپاره ناپوهي، بیسوادي او جهل لوی لاملونه دي او د دغو ستونزو لپاره باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

- دولت او نړیوال شریکان باید د جهل او نا پوهی سره د مبارزې لپاره لنډ مهاله او اوږد مهاله طرحې جوړې او پلي کړي.
- په ابتدایي تعلیمي نصاب کې باید د سولې تر نامه لاندې یو مضمون ځای کړل شي ترڅو د سولې د دود د رامینځ کولولپاره بنیادي پیل وشي.
- د افغانستان دولت باید په ښوونځیو کې د ماشومانو د شاملولو لپاره د کورنیو د هڅونې لپاره ځانګړې طرحې




جوړې او پلې کړي.

- د بېسوادۍ سره د مبارزې لپاره هغو ځوانانو د زده کړې لپاره مشخصې لارې چارې ولټول او پلې شي کوم چې د تعليم څخه بې برخې پاتې دي.
- په ورته وخت کې، په ديني مدرسو کې ديني تعليمونه وګړو ته وړاندې کېږي؛ په داسې حال کې چې ټول کوچنيان بايد په ابتدايي مرحله کې عمومي تعليماتو ته لاس رسی ولري او ديني تعليمات لکه نور اختصاصي تعليمات بايد په لوړو زده کړو کې ورته وړاندې شي.
- په ديني لوړو زده کړو موسساتو کې بايد د قدر وړ پانګه اچونه وشي ترڅو دغه موسسات د مالي لګښت د پوره کولو لپاره د داخل او بهر څخه اړتيا ونلري. او په همدې ډول بايد په هېڅ ډول پورې تړلي نه وي او د چا ملاتړ ته اړتيا و نه لري.

### ۴- د ناامني او تاوتريخوالي له منځه وړل

نظامي عمليات او ترهګريز بريدونه: د نظاميانو او غير نظاميانو د جنګ د قربانيانو کچه، د ودانيو ړنګول او سفر محدوديت، په افغانستان کې د سولې نه شتون په ګوته کوي.

په حقيقت کې د درک وړ ده چې سوله بايد دايمي سوله وي؛ په ورته وخت کې د سولې او امنيت اړيکه نه شلېدونکي ده او يو له بل پرته نه شي کولی چې دوام وکړي.

څلورو لسيزو جنګونو د نورو ډيرې ناخوالې جوړلو ترڅنګ د افغانستان امنيت ته هم ډير تاوان ورسوو او د افغانانو ټولنيز ژوند ته يې هم ډيرې ستونزې جوړې کړې دي.

ټولنيزې ستونزې يا هم هغه ستونزې چې قومي او ژبنی ريښه لري د امنيت له ټينګښت څخه زيات پام او برنامو جوړلو ته اړتيا لري.

په لومړي قدم کې د جنګ د دريدو لپاره او په دويم قدم کې د ټولنيزې تلپاتې سولې لپاره بايد لاندې ټکې په پام کې ونيول شي:

- د سولې له هر ډول توافق مخکې بايد د دولت او طالبانو له لوري اوربند اعلان او مراعات شي.
- د سولې د ټينګښت لپاره هڅې بايد د کورنيو له چاپيرال څخه پيل شي او هر يو کس بايد د يوې ټولنې د غړي په توګه د سولې په راوستو او په خپراوي کې ونډه واخلي.

### ۵- يو بل منل

ګډونوالو ټينګار درلود چې زمونږ ټولنه له بيلا بيلو قومونو او مليتونو څخه جوړه ده، او د استبدادي حاکميتونو په وخت کې د ډلو او قومونو ترمينځ ډيرو ستونزو شتون درلوده او زور يې اخيستی وو، تر دې حده چې په اوسني وضيعت کې په افغانستان کې د بحران لامل شوي دي او د ځينو کړيو لخوا ورته لمن وهل کيږي.

تجربو دا ښودلې، چې د يوې ډلې يا د يوه قوم لپاره د قدرت غوښتل څه د نظامي ځواکونو يا غير مسووله ډلو په وسيله نشي کولی چې د افغانستان ستونزې حل کړي. تجربې په ۲۰۰۱کې د طالبانو له سقوط وروسته يو ځل بيا دغه وښوده. ټولنيز عدالت، او ښاري حقوق کولی شي دغه ستونزې تر ډيره بريده حل کړي.

د دغه ناخوالو ترڅنګ د څلورو لسيزو جنګ او نورو هيوادونو ته کډوال کېدل او د نورو هيوادونو اغيز د دغه ټولنيزو ستونزو لوی لامل دی.



له همدې خاطره اړتیا ده چې لاندې ټکو ته جدي پاملرنه وشي:

- لـه هر قشر او ټولنیـزې ډلې بایـد خلک د سولې په پروسه کې شریـک وي او خپـل شتون احساس کړي.
- د سولې د خبرو وروسته د اوبـو او د ځمکـو د وېش پـه سر د سیمه ایزو ستونزو د حل لپاره اقدام وشي.
- د خلکـو رواني امنیـت د جګـړو پـه کلونـو کـې ډېـر زیـات زیانمـن شـوی دی. د دغـې سـتونزې د حـل لپـاره بایـد دولـت او نړیوالـه ټولنـه لنـډ مهالـه، میـان مهالـه اوږد مهاله برنامې طرح او پلـې کـړي.
- شـته منابـع بایـد ټولـو مختلفـو قومونـو او ډلـو تـه پـه برابـر ډول ورکـړل شي ترڅـو قومـي او سـیمه ایـزې سـتونزې را مینځتـه نـه کـړي.
- د دولتـي اداراتـو د کارکوونکـو د مقرریـو سیسـتم بایـد پـه ټولنیـز عدالـت و لاړ وي او لـه سیاسي، قومـي او مذهبـي سـلیقو څخـه بایـد لیـرې وي.

### ٦- د ټولو افغانانو لپاره عدالت

هغـه سـوله چـې عدالـت رامنـځ تـه نـه کـړي، هرورمـرو بـه زیانمنـه کیـږي، او هغـې تـه ریښـتنې سـوله نـه شـو ویـلای. اکـثره ګډونـوال پـه دې بـاور دي چې عدالـت هـم پـه دیني ارشـاداتو او هـم د بشري ارزښـتونو پـه چـوکات کـې ځانګـړی ځـای لـري

د ظلـم، بحـران او جنګونـو پـه پیریـو کـې ډېـرې بې عدالتـۍ را مینځتـه شـوې دي مګـر پـه هیـڅ وخـت کـې د عدالـت د ټینګښـت لپـاره ریښـتنې هڅـې نـه دي تـرسره شـوې.

غیـر قانـوني اعدامونـه، ډلـه ییـزې وژنـې، پـه عمومـي او غیـر نظامـي ځایونـو بریـد، ځانمرګـي بریدونـه، لـه هـدف پرتـه د درنـو وسـلو ګرځـول، تـرور او هـدفي وژنـې پـه دولـت کـې د شـاملو او نـا شـاملو ډلـو لـه لـوري پـه وروسـتیو څوارلسـو کلونـو کـې پـه تکـرار سره رامنځتـه شـوي دي؛ خـو د دغـه جنایتونـو ځـواب چـا تـر اوسـه نـدې ورکـړی.

د سـولې د ټینګښـت لپـاره بایـد د هغـو ځانګړنـو څخـه کار واخیسـتل شي، چـې پـه راتلونکـې سـوله کـې شـتون ولـري او د دغـه وضیعـت د راوسـتلو لپـاره اړتیـا ده چـې د سـولې پـه خـبرو کـې ښـکېل لـوري لانـدې ټکـو تـه پـه جـدی ډول پـام وکـړي:



- ټولنیـز ارزښـتونه او حقونـه بایـد د سـولې د خـبرو قربـاني نـه شي او د سـولې ټولـې خـواوې بایـد د عدالـت او ټولنیـزو ارزښـتونو پـه خپرولـو کـې مرسـته وکـړي
- د افغانسـتان ښـځې بایـد لـه عادلانـه حقونـو څخـه برخمنـې وي او د سـولې پـه راوسـتلو کـې د دوی حقونـه بایـد د سـولې بدیـل و نـه ګرځـول شي.
- د انتقـالي عدالـت برنامـه بایـد پـه یـوه مـلي ناسـته کـې وڅیـړل شي، تـر څـو هیڅـوک و نـه شي کولـی لـه هغـه څخـه نـاوړه ګټـه واخـلي.
- عدالت بایـد یـو شـان پلـی شي او ټـول وګـړي د عدالـت پـه هنـداره کـې خپـل ځانونـه وګـوري.
- د هغـو بې عدالتیـو لپـاره چـې د تېـرو څـو لسـیزو پـه جریـان کـې پـه هیـواد کـې را مینـځ تـه شـوې دي، بایـد د وخـت او ځـای پـه کتلـو سره ورتـه روښـانه برنامـې جـوړې او پلـې شي.

## نچوړ:

کله چې د سولې خبرې پایلې ته ورسیږي او یا هم له دې خبرو اترو کومه پایله ترلاسه نه شي، د افغانستان پر خلکو به یې اغېزه ډېره وي.

خو که چېرې خبرې اترې د سیاسي معاملو او د قدرت راکړې ورکړې په نتیجه کې پای ته ورسیږي او په دې خبرو اترو کې مهمو مسایلو ته پام ونه شي، دا به د افغانستان خلک وي چې د دا ډول پایلو ضرر به ویني.

په همدې دلیل، د درک وړ ده چې د نظرونو له اختلاف سره سره اکثره ګډونوال په دې باور وو چې د سولې په پروسه کې نا آورېدل شوی غږ یې باید د دغه پروسې د لوبغاړو تر غوږه ورسیږي په ځانګړې توګه په هغه مواردو کې چې د نظر توافق شتون لري.

اوس مهال پوره احتیاط ته اړتیا ده چې د سولې په پروسه کې له بېځایه او ناموثقو خبرونو څخه مخنیوی وشي. په داسې حال کې چې تراوسه اوربند نه دی رامنځته شوی، اړتیا ده ترڅو په خبرو اترو کې بشکېل لوري او ملاتړ کوونکي، د خبرو اترو څخه موثق خبرونه د عامه ذهن په واک کې ورکړي ترڅو روڼوالی رامنځته او په پایله کې دغه پروسې ته د خلکو اعتماد جلب شي.

په همدې ترتیب که چېرې د خبرو اترو ښکېل اړخونه د سولې پروسې په اړه د خلکو نظریاتو ته غوږ ونیسي، دا به د سولې روانو خبرو کې یوې مطلوبې پایلې ته په رسېدو کې مرسته وکړي.

که چېرې د سولې خبرو پایله خلکو ته د منلو نه وي، دا پایله به هغه لیکنې ته ورته وي چې د یخ په ټوټه یې ولیکي او لمر ته یې کېږدي.

د خلکو د غږ اورېدل، د دوی اندېښنې او وړاندیزونه په نظر کې نیول او د سولې په پروسه کې د دوی رول ته قایلېدل، به مرسته وکړي ترڅو د سولې له خبرو په لاس راغلې پایله، د یوې منل شوې او تلپاتې سولې جوګه وي.

د افغانستان د پالیسۍ ډله له خپلو داخلي او بهرنیو شریکانو سره، ژمن دی چې د سولې خبرو اترو پروسې په جریان کې، پایلو ته تر رسېدلو پورې او حتا د سولې له توافق وروسته، د خلکو د غږ اوچتولو لپاره یو مسیر وي.



Imprint
© 2019 Friedrich-Ebert-Stiftung Afghanistan Office
Kabul, Afghanistan

Responsible:
**Dr. Magdalena Kirchner** | Country Director

T +93 (0) 700280441
www.fes-afghanistan.org
Friedrich-Ebert-Stiftung Afghanistan

To order publication:
info@fes-afghanistan.org

Commercial use of all media published by the Friedrich-Ebert-Stiftung (FES) is not permitted without the written consent of the FES.

**محمـد فهيـم دشـتي:** يـو داسې ليکـوال دی چې خپـل مسـلکي ژونـد يـې د ۱۳۷۱ کال څخـه د کابـل پـه اونيـزه کـې لـه کار کولـو څخـه راپيـل کـړی دی؛ هغـه رسـنۍ چې پـه ۱۳۷۴ کال کـې د طالبانـو لـه لـوري وتـړل شـوه. لـه هغـه وروسـته دشـتي د طالبانـو ضـد د مقاومـت جبهـې سره د رسـنيز کارکوونکـي پـه توګـه تـر ۱۳۹۶ کال پـورې فعاليـت کـوو. پـه ۱۳۸۱ کال کـې دشـتي د کابـل اونيـزه يـو ځـل بيـا د خدمـت کولـو لپـاره جـوړه کـړه او تـر ۱۳۹۲ کال پـورې يـې د امتيـاز څښـتن او مديـر مسـوول پـه توګـه فعاليـت وکـړ. لـه ۱۳۹۳ کال څخـه دشـتي د افغانسـتان د ژورناليسـتانو مـلي اتحاديـې د اجرايـوي رييـس پـه توګـه خدمـت وکـړ او پـه ۱۳۹۶ کال کـې د يـادې اتحاديـې د رييـس پـه توګـه وټـاکل شـو. دشـتي لـه يـوه کال راهيسـې د افغانسـتان د پاليسـۍ ډلـې د همغـږي کوونکـي پـه توګـه هـم فعاليـت کـوي. دشـتي د «پايـان بـازی/افغانسـتان در دودهـهٔ اخيـر» پـه ګـډون د څلـورو کتابونـو ليکونکـی هـم دی.

پـه دغـه رسـاله کـې وړانـدې شـوي نظريـات د فريدريـش ايـبرت بنسـټ يـا د افغانسـتان د پاليسـۍ ډلـې نظريـات نـه دي.

د فريدريش ايبرت بنسټ يو غير انتفاعي او د دموکراسۍ د سوسيال آرمانونو ته متهد آلماني بنسټ دی.

دغه بنسټ په ۱۹۲۵ کال کې د آلمان د انتخابي ولسمشر (فريدريش ايبرت) په افتخار يې بنسټ کيښودل شو او تر نن پورې يې اصلي دنده د سياسي پروسو څخه د آلمان دننه او بيرون کې د آزادۍ رواجول، يوځای والی او ټولنيز عدالت دی.

په افغانستان کې د فريدريش ايبرت بنسټ د ملي بنسټونو په همکارۍ له ۲۰۰۲ څخه په دې خوا فعاليت کوي. د ياد بنسټ برنامې د ډيموکراتيکو جوړښتونو د استحکام لپاره ـــ له سيمه ايزې تر ملي سطحې ـــ د ځوانانو د ګډون د کچې د لوړوالي، د ښځو د رول او حضور لوړول او جنسيتي مساويتوب، د مسلکي او آزادو رسنيو رواجول، په رسمي او غير رسمي اقتصاد کې ټولنيز عدالت او د سولې او توسعې لپاره سيمه ايزې همکارۍ په موخه په لاره اچول کيږي.



EFQM
Committed to excellence